ANDREA FLESCHENBERG

AFGHANISTAN'S PARLIAMENT IN THE MAKING. GENDERED UNDERSTANDINGS AND PRACTICES OF POLITICS IN A TRANSITIONAL COUNTRY

EDITED BY HEINRICH-BÖLL-FOUNDATION IN COOPERATION WITH UNIFEM, BERLIN 2009 http://www.boell.de/publications/publications-7075.html

اندریا فلخنبرگ
د افغانستان پارلمان د جـویدرو په حال کی. په یو انتقالی هیواد کی په جنسیت پوری تـړلی د سیاست عملونه او تفاهمات
ادیتور: د هنریخ-بال مؤسسه په همکاری د برلین د یونیسف اداری سره 2009-
http://www.boell.de/publications/publications-7075.html

## د اجراآتو خلاصه

په دی وروستیو یعنی د 2005 کال په ټولټاکنو کی، د افغانستان په تاریخ کی د لمړی ځل لپاره ښځی په یوه پراخه پیمانه د پارلمان دواړو خونو یعنی ولسی جرګه او مشرانو جرګی ته ورننه شوی. هغوی اوس د پارلمان د غړو په توګه په تصمیم نیولو، پالیسی جوړولو او قانون جوړلو کی ګدون لری په داسی حال کی چی خپل رای ورکوونکو، د رایو حوزو، له خلکو او خبری رسنیو سره بوختی دي. د قانون جوړولو د مودی په دوهم نیمایی کی، د افغانستان د پارلمان د تأسیس بهیر د استحکام مرحلی ته را ننه شوی او قانون جوړوونکی د خپل سیاسی موقف د پیداکولو په لټه کی دي. د ائتلاف کولو پروسه په داسی حال کی تر سره کیږي چی هیواد د تحول له مرحلی څخه تیریږي او د سیاسی، نژادی، ژبنی، ښاری او کلیوالی، سیمه ایز او تاریخی صفونو کی ویشل کیږي. د دولت جوړولو عمومی پروژه کی دا رامخته کیدونکی خندونه به خامخا په پارلمان کی څرګند شي او په دی موده کی د پارلمان ښځینه غړو د قدرت د لاس ته راوړلو په محور او مرکز کی منتقل شوی.

پارلمان او د پارلمان غړي اوس د دولت جوړونی او د شخړی وروسته انکشافاتو په زړه کی واقع دي. خو تر اوسه پوری ډیر لږ څیړنی او تحقیقات تر سره شویدی چی مرسته وکړي و پوهیږو چی څومره وخت غواړي څو یو داسی پارلمان ولرو چی فعاله، مؤثره، پاتی کیدونکی وی او دا زمینه مساعده کړي چی اداری پوښښ په لازم طرزالعملونه، مشوری او ګدون سره ډک شی تر څو د خلکو ګټی تأمین کړي او سیاستو او د قدرت لپاره مبارزه خښمینو وسایلو (violent means) څخه بیل او سولی، بیارغونی، او عامه رفاه خوا ته لارښوونه وکړي. څرنګه شخړی/د قدرت میراث په نوی سیاسی جوړښت کی ځای پر ځای کیږي او نتیجه به یی څه وي؟ نوی سیاسی لوبغاړو (political actors) چی مخکی د حاکمی طبقی غړي نه وه، لاس رسی پیدا کوی چی د شخړی نه وروسته په سیاست کی کوم بدلونونه راوړي؟ قانون جوړوونکی څومره په قواعدو، آجنداوو او دساتیرو باندی پوهیږي کوم چی دوی مجبور دي سر ته ورسوي او یا غواړی تر سره کړي؟ د هغوی د دساتیرو په پلی کولو کی کوم خندونه موجود دي؟ هغوی خپل کار څنګه درک کوي او د پارلمان راتلونکی انکشافات څرنګه تصور کوي؟ د سولی د ترونونو لکه د بن ترون څخه کوم تلویحات یا ضمنی معناوی مینځ ته راځي هغه ترون چی د پارلمان جوړونی لپاره د متنازعو اړخونو او بالقوه ویتو کوونکو لپاره زمینه مساعدوی.

نو له دی امله دا څیړنه د یو څو توتی شوي، مرکب او شفاف افغانی پارلمان د پیچلتیا په هکله یو سفر پیل کړی او هڅه یی دادی چی د افغانستان د پارلمان اداری جوړونی او په خصوصی توګه د پارلمان ښځینه غړو په اړه د ګزینی، فرصتونه او د داخلیدو ممکنی نقطی حتا کوڅی په هکله د اندیښنی بر څیره د غړو پیچلی او مشکل حقیقت درک کړي.

.

**د فصلونو خلاصه**

مقدمه یو منطقی بنست، متدالوژی، او د هغو سروی ګانو اهداف مطرح کوي کوم چی په 2007 او 2008 میلادی کال کی د پارلمان له نارینه او ښځینه غړو سره اجرا شوی وه او په تفصیل سره سیاسی او ټولنیز حالات او په جنسیتی

اړخونو کی په ولسي جرگه او مشرانو جرگه کی د پارلمان د غړو لپاره د پارلمان سیاسي او ټولنیز مقام تر بحث لاندی نیسي. مهم عوامل لکه مرکبي اداری، توتی توتی کیدل، او د شخړو میراثونو ته ارزښت ورکول کیږي. په 2 فصل کی د 2001 نه وروسته افغانستان کی د دولت جوړونی او اداری جوړونی روان حالت څیړل کیږي چی نه یواځی په افغانستان کی د دولت په اړه تعریفات، مفاهیم او شاخصونه مرور کیږي، بلکی د مشکلاتو، لاس ته راوړنو او چیلنجونو د مرور له مخی په افغانستان کی د دولت او اداری د جوړولو بهیر ارزونه کیږي.

دا تحلیل به مرسته وکړي څو یوه زمینه مساعده شي چی د هغه بر بنسټ د افغانستان پارلمان چی دوه برخی لری، او د جوړیدو په حال کی ده، پخپله فعالیت وکړي. نو پر دی اساس د سیاسی موجود نظام او هم د نقشونو، وظایفو (لکه قانون جوړولو، بودیجوی مسایل، او د حکومت توانایي، سیاسي گوندونه، پارلماني گروپونه) او اړوند ستونځی او چلنجونو باندی کتنه تر سره شي.

د افغانستان د ټاکنیزو حوزو پوری تړلی سروی گانی چی د پارلمان د غړو اجراات او نقشونه او د ښځو سیاسی گډون تحلیل او تجزیه کوي، هم په دی ارزونه کی شامل دي. دریم فصل د افغانستان نه بهر د پارلمان د ښځینه غړو سیاسی گډون بیانوي. د پارلمان د ښځینه غړو نړیواله تجربو څخه تر لاسه شوی معلومات په بیلابیلو څیړنو -- د شخړو نه وروسته هیوادونو او مستحکمو دیموکراسی گانو -- کی ولاندی شوی دي چی ددی سروی پر اصلی عنوان باندی تمرکز کوي یعنی د نورو شیانو په منځ کی د پارلماني کمیتو او نیتورکنگ (اړیکو) په ذریعه پارلمان سره د مرستی او همکاری، د ښځو سیاسی تشکیلات، او مدنی ټولنی، له لیاری د ښځینه پارلمانی غړو سیاسی مؤثریت اوچتوي.

څلورم او پنځم فصلونه د دوو سروی گانو عمده او اصلی لاس ته راوړنی ولاندی کوی چی د افغان پارلمان د نارینه او ښځینه غړو په مینځ کی او د پارلمان د غړو د شخصی سوابقو، سیاست ته لاره، حسابدهی، ملاتړ ، او له مدنی ټولنی سره معاملی، د حکومت څخه څارنه (نظارت)، ملی بودیجه او د ښځو د چارو له وزارت سره همکاری، سیاسی اجندا او قانونی علایق، د پارلمان د غړو تر مینځ همکاری او د پارلمانی ښځو د شبکی موضوع په اړه، د حکومتی مأمورینو او د مدنی ټولنی له استازو سره اضافی مصاحبی تر سره شوی وی. شپږم یا آخری فصل د سرویگانو عمده لاسته راوړنی خلاصه کوي او په دی اړه سپارښتنی لري چی کوم شی او څرنگه د پارلمان له غړو، خصوصاً ښځینه غړو، سره د بین المللی (غیر دولتی) مؤسساتو د مرستو او همکاریو بنسټ جوړوی.

**منطقی بنسټ، متدالوژی، او اهداف**

د دی څیړنی موخه چی د 2007 میلادی کال د جولای نه تر سپتمبره او همداسی د 2008 میلادی کال د مارچ په میاشت کی تر سره شوی ده، دا وه چی شخصی سوابق، سیاسی برنامی، او د افغانستان د پارلمان ښځینه غړو انگیزی، او له بلی خوا د دواړو پارلمانی خونو د ښځو موجوده عام شاخصی کشف او پیدا کړي کوم چی کولای شوای د ښځو د تصمیم نیونی د مشترک برنامی لپاره یوه پیلامه شي. د ښځو د سیاسی علایقو د شاخصونو د مشخص کولو سره هیله ده چی دا څیړنی وکولای شي د ښځو استازیتوب په سیاسی نفوذ بدله کړي او همدا راز د جنسیت د پالیسی په اړه یوه مؤثره برنامه مینځ ته راوړي.

د پارلمان د دواړو خونو ټول ښځینه غړي ته بلنه ورکړل شوی وه چی په سروی کی گډون وکړي. د 91 ښځینه غړو څخه چی په دواړو شوراگانو کی دی، 76 کسانو د خپلو سوابقو، سیاسی تگلارو، سیاسی پروگرامونو خصوصاً د ښځو مسایلو په ارتباط ، پوښتنلیک ته ځواب ورکړي دي. پوښتنلیک کی دا هم راغلی چی د پارلمان په دواړو خونو کی دغی ښځی په پالیسی جوړونه او قانون جوړونه کی له چا سره مرسته وکړي. د 2008 میلادی کال د مارچ په میاشت کی یو اضافی خو ډیر وړوکی سروی د پارلمان د نارینه غړو په مینځ په لاره واچول شوه. هغه نارینه غړي چی ورسره مصاحبی شویدی، د پارلمان د ټولو نارینه غړو څخه چی په ولسی او مشرانو جرگه کی دی نمایندگی نکوي. دا غړي د سیاسی تعهد، تجربه، نژاد، مذهب، عمر او ژبی له نظره سره متفاوته دی. خو مونږ هڅه وکړه هغه قانون جوړونکي

شامله کړو کوم چې د نژادی، ژبنی او سیاسی دلی له لحاظه عمده تفاوت لري او اوس په پارلمان کی د پیژندلو وړ دي په شمول د هغو تجربو چې په جلاوطنی کی تر لاسه کړي دي.

پوښتنلیک ته چې کوم ځوابونه ورکړل شویدی، دا جوته کوي چې تر یو ټاکلی حده پوري ځان درک شوی تجربی، د سیاسی نمایندگی ځان پوهنی self-understanding او د افغانستان په معیینه کلتوری، اقتصادی، ټولنیز–سیاسی چوکات کی د اختیار عملی کول په مؤثره توگه ارزیابی شي. په نتیجه کی هغه معلومات چې ولاندی شویدی، یواځې د پارلمان د مصاحبه شوو غړو ځان–ارزونه څرگندوی. د هغوی ځینی ځوابونه کیدای شي تر دی تأثیر لاندی راشی چې دوی غواړی د خلکو له خوا درک شي. د مثال په توگه اعتبار ورکول ټولو هغو ځوابونو ته چې د انتخاب کوونکو سره د متقابل عمل interaction او روشونه، د مدنی ټولنی لوبغاړی او د پارلمان د غړو پخپل منځي همکاریو سطح او محتوا په هکله ورکول شویدي، ددی بحث د سطحی څخه بهر دی. د دی لاس ته راوړنو پر بنست، د یو ژور او اساسی څیړنی غوښتنه لا پاتی ده. د مثال په ډول د حمایوی سیستمونو په هکله او د پارلمان د استازو د نفوذ شبکی په هکله څیړنه ترڅو وکولای شو په ولسی جرگه او مشرانو جرگه کی د پارلمان د قدرت او سیاسی تعاملاتو یو عمومی انځور لاس ته راوړو.

**عملاَمی ته راوړنی او سپـــارښتونه**

د طالبانو د طغیان او د پارلمان د غړو څخه نیوکه او په بیلابیلو سیمو کی د حکومت ماتی په فضا کی، لیدل کیږي چې تر کومه حده پوری پارلمان کولای شي په راتلونکی ټولټاکنو کی د یو دیموکراتیک، ټولنیزی، او وظیفه پیژندونکي اداری په توگه ځان تینگ او له سره تجدید کړي. د بن بهیر د پخوانی جنگ سالارانواو د بشری حقونو تیری کوونکو د سیاسی شمولیت له پالیسی سره ددی اداری لپاره یو عالی او جدی میراث مینځ ته راوړ کوم جنگ سالاران چې د خلکو په نزد خپل اعتبار له لاسه ورکړی وه. د دولت او د بیا قدرت ته رسیدلی طالبانو تر مینځ خبری اتری د تیر کال په دوران کی په تکرار سره مطرح شویدي، خو دا خبری کولای شي د دیموکراتیک اداره جوړونی او سیاسی دیالوگ د خرابولو په لور یو بل گام وي چې د افغانستان ملت د پالیسی مهم موضوعات او په سیاسی فضا کی د سیمه ایز، ژبنی، نژادی او سیاسی درز له منځه یوسی.

دا مهمه ده چې په حاشیه کی پاتی شوی دیموکراتیک پارلمانی قواوو د ظرفیت جوړونی، متقابل عمل کولو او عامه نفوذ پیاوړی کولو فرصتونو پر ضرورت باندی تینگار وشي. د ښځینه دستگاهو تقنینی کارونه او تجربی د مسلمانو او نورو هیوادونو او له ذیدخلو قانون جوړوونکو، بیروکراتانو، دولتی مأمورینو او مدنی ټولنو فعالیتونو سره د نظریاتو شریکول گټور وبلل شول. یوه بله لاره به د ښځو د چارو د وزارت د متقابل عمل کول او د ارتباطاتو پالیسی پیاوړی کول دی په شمول د هغو کسانو چې ډیر محافظه کار دی او باید د ښځو د ستونزو او ممکنه حل لاری په ترسیمولو کی دخیل شي. د یو لوړ احتمال سره سره چې د ښځو د مسایلو او حقوقو د اهمیت په هکله بیان تش په خوله خبری دي، دا خبره کیدلای شی د یو داخلیدو تکي په حیث وکارول شي چې د پارلمان غړي لا مسئول کړو او سیاسی او شخصی گټی ور وښیو. د مثال په توگه، که چیری پوژه تطبیق شي، د رایو زیاته شمیره او یا هم د انتخابی حوزو لپاره مالی مرسته. دا د مجدد ټولټاکنو له ولاندیز سره په پراخه پیمانه اړوند دي.

دا سروی د افغانستان د پارلمان د غړو د ستونزو، چلنجونو، سوابقو او پیچلی حقایقو په اړه ډیر لږ تاثیرات ښکاره کوي. مگر داسروی اجازه ورکوي چې د پارلمان د ښځینه غړو تر مینځ د همکاری او د یو مؤثر جندر پالیسی اجندا لپاره د راتلونکی ابتکاراتو لپاره د داخلیدو د نقطی په توگه تشخیص شي. د لاس ته راغلی معلوماتو نه وروسته د داخلیدو دوه لاری منځ ته راځي: د ښځو مسایل یا "عمومیات"/ "نه ویشل کیدونکی" مسایل البته د هغو اندیښنو په نظر کی نیولو سره چې د پارلمان ښځینه غړي د یووالی، امنیت، او رضایتی/تعاونی طرزالعملونو په هکله یی لري.
د اجباری سیاسی فضا چې مخکی تر دی نه په سیاسی دایلوگ او د ښځو د مسایلو د بریالی حل کولو پخاطر طرح شوی داسی سپارښتنه کیږي چې باید د ښځو پر مسایلو سیاسی دایلوگ پیل شي تر څو تر ممکنه حده پوري یوه د محدودیت نه پرته او بی جداله اداره را مینځ ته شي. ډیر "عمومی" موضوعات هم یوه پراخه توسعه او د رای ورکوونکو گروپونو باندی اغیزه او د هغوی نه ملاتړ را مینځ ته کړي. د مثال په ډول، د بیا ټاکنی لپاره چې یو سړی خپل موقف پیاوړی کړي، د شبکی جوړولو او حزبی انجمن جوړولو لپاره چې یو سیاسی آجندا تعقیب کړي.

- د ښځو مسایل: د مدنی ټولنی فعالان کورنی قوانین، د امیدواری میندی تحفظ، ځو ښځی درلودل، داخلی خشونت، او جنسی اذیت او آزار د آجندا د عناوینو لپاره مهم ګڼلي دي. د پارلمان ځو تنه ښځینه غړي د سروی په جریان کی ولاندیز کړی چی د ښځو اقتصادی استقلال او قدرت رسیدو ته پاملرنه وشي او د ښځو حقوق په عمومی توګه (26) او د ښځو ستونزی/رفاه/ اړتیاوی (21) ته توجه وشي. د معلوماتو مجموعی ته په کتو سره، د طلاق او د ماشومانو د حضانت حق نه برسیره د ښځو بیسوادی او د تعلیم نه محرومیت په شمول د مربوطه کورنیو، د پارلمان د 14 غړو اصلی اندیښنه جوړوي.

- عمومی مسایل: د مدنی ټولنی فعالین ولاندیز لري چی معارف، امنیت، ماشومان، او د جګړو د قربانیانو اړتیاوی هغه نه ویشل کیدونکی مسایل دي چی د پارلمان ښځینه غړی حلولی شي. د سروی نتایج دغه عناوینو ته اشاره کوي چی د پارلمان ښځینه غړي باید د خپل اجندا په اول سر کی ځای پر ځای کړي: معارف (26)، امنیت (23)، پراختیا او بیارغونه په ولایاتو کی (21) روغتیا (15)، او ځوانان (8).

دیالوګ: د پارلمان د ښځو د شبکی (چی د 2007 میلادی کال څخه راهیسی شتون لري) د تجربو او د سروی د نتایجو (چی د پارلمان ښځو ګتو ته اشاره لری) په نظر کی نیولو سره په داګه سره سپارښتنه کیږي چی د معارف، پراختیا او بیا رغونه، روغتیا، ځوانان، او د پارلمان د ښځو لپاره امنیت پر عناوینو باندی یو لړ سیاسی خبری اتری تنظیم شی. د پارلمان په دننه او بهر کی د شرایطو په نظر کی نیولو سره، دغی خبری اتری باید د محرمانه ګردی میز په صورت کی تر سره شي چی د Chatham House قواعد به پکی رعایت شی تر څو د اعتماد جوړونی او د بیلابیلو پارلمانی څانګو د ښځو په مینځ کی حد اکثر متقابل عمل مینځ ته راشي.

د دی ګردی میز د مذاکراتو شرح باید رابلل شوي متخصصینو د نظریاتو په واسطه غنی کړی شي او د پارلمان ښځی د مدنی ټولنی یا دولتی تشکیلات د ممکنه ملی، سیمه ایز یا مقامی شرکاوو سره اړیکی ټینګه کړي. په دوهم پړاو کی مشوره داده چی په پارلمان، حکومت، وزارتونو او مدنی ټولنه کی کلیدی نارینه متفقینو سره د موضوع په اړه یو بل دور د خبرو اترو پیل شي تر څو وحدت جوړونه او مؤقتی اتحاد د نارینه او ښځینه د ګډ کار په شکل کی مینځ ته راشي چی د آجندا په تعینولو او تقنینی اقداماتو کی ضرورت دی کیدای شي دغه اقدامات د حکومت له خوا وي او یا هم د شخصی کسانو له طرفه. ښځی به ضرورت ولری چی خپلی شبکی او انتخابی حوزی جوړی کړي تر څو خپل انتخابی حوزو له غړو سره مصروفه شي، د غړو نګرانیو لپاره د حل لاری پیدا کړي او بلاخره بیا وټاکل شي. د نورو ملکونو څخه شواهد ښئی چی هغه کارونه چی د دواړو نارنه او ښځینه به واسطه تر سره کیږي، او یا هم هغه مهم کارونه چی د پارلمانی غړو د ورو‌کی خو با تصمیمه ائتلاف یا coalition له خوا تر سره کیږي، کولای شي چی د یو مؤثر جندر پالیسی د آجندا په مخ ته بیولو کی ډیر مثمر او کامیابه وي.

**ترینګ:** د پارلمانی ښځو په منځ کی د وکالت، اتحادیي جوړونه، او د شخړو منځګړتوب د تخنیکونو په اړوند تریننګ ته ضرورت محسوسیږي داسی تریننګ چی په نورو د شخړی وروسته هیوادونو کی د ښځو بریالی اتحادیی له تبادل سره او د سفرونو او ورکشاپونو په ترڅ کی (چی پکی تجربی، اندیښنی، او د حل ممکن لاری سره شریکه کیږي) غنی کیږي. پدی لړ کی بین الپارلمانی اتحادیه چی د شخړو وروسته هیوادونو او پارلمانی ښځو سره په مرسته کی بوخت دی، کیدای شي د داخلیدو یوی نقطی په حیث په نظر کی ونیول شي. دوهم دا چی، د افغانی سیاستپوهانو او ټولنو لپاره د اسلام اهمیت په نظر کی نیولو سره، د پارلمان ښځینه غړي ضرورت لري چی د اسلام د حقوقی چوکات، مذهبی قوانینو مجموعه،او د هغوی قضایی رویه او د راتلونکی تقنینی اقداماتو د تفسیر او تعبیر په باره کی ژور معلومات تر لاسه کړي. د نورو اسلامی هیوادونو د څیړنو او تبلیغاتو سازمانونه، کولای شي د د حل د قانونی لاری د پیدا کولو په اړه او هم د خپلی پوهی د انتقال او تبادلی پخاطر تر استفادی لاندی ونیول شي.

**څېړنې:** د سروی لاس ته راوړنه دا حقیقت څرګندوی چی اداری تشکیل، د قدرت متن او د افغانی پارلمان، د متقابل عمل د بشپړ ارزونی لپاره لا زیات څیړنو ته ضرورت لري.

په یوه ښکاره مردسالاره ټولنه له متنفذه محافظه کاره ویتو کوونکی سره چیرته چی د ښځو څخه ملاتړ نکوي، اداری د جوړیدو په حال کی دي، د پارلمانی ښځو خودمختاری محدودی دی، پخصوص د جنجالی او ابتکاری سیاسی مسایلو په

اړوند ځکه چې د ښځو ډېر مسایل د درک وړ دي. همدارنګه شواهد موجودي دي چې پارلماني ښځې د نارينه سياسي کسانو دقدرت په مبارزه کې د شخصي ابزارو په توګه کارول کيږي کوم چې د خپلو ګټو لپاره د ژبنې، مذهبي، سيمه ايز او نژادي درز څخه کار اخلي. خو بيا هم، څرنګه چې مصاحبې ښئي د افغانستان په تاريخ کې دا د ښځو لپاره لمړی ځل دی چې دوی داسې يو اوچت شمير سره سياست ته داخليږي او زمينه د پارلمان د هر يو غړي لپاره مساعده شويدی چې مؤثر اوسي، د خلکو او د بين المللي ټولنې توقعات پوره کړي کوم چې دقيق مراقبت کوي. ډېر کسان په دې نظر کې دي چې د پارلمان ښځينه غړې او د هغوی سياسي عملونه بايد تر سختګيرانه قضاوت لاندې و نه نيول شي. نو پر دې اساس دا ډېر اهميت لري چې د پارلمان د ښځينه غړو لپاره ځای خلاص پريږدو تر څو خپل سياسي هويت لاس ته راوړي، د خپل مرستو او همکاری زمينې پيدا کړي او نورو ښځو لپاره مثال وي.